د افغانستان اسلامی امارت
ستره محکمه

امارت اسلامی افغانستان
ستره محکمه

قضايي معاونيت

د تحریراتو آمریت

گڼه:.....................
نېټه: ۲۹/ ۱۱/ ۱۴۴۳ هـ ق

☐ عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر

د مثنی ورکولو اصول:

۱. د قبالې مثنی هغه چا ته ورکول کيږي چې قباله د هغه په نوم وي يا په قباله کې د ذکر شوي کس د ورثې څخه وي او يا هم په قباله کې د ذکر شوي کس څخه شرعي وکالت خط ولري خو په دې شرط چې د قبالې مادي فائده (اثبات ملکيت) يا معنوي فائده (اثبات د نسب) ورته راجع وي.

۲. عارض به د مثنی اخستلو لپاره اول د استيناف رئيس ته عريضه کوي هغه به يې مخزن ته راجع کړي.

۳. عارض به د مثنی اخستلو علت په عريضه ذکر کوي.

٤. د مخزن د امير تر احکام ليکلو وروسته به ياده عريضه تحويلخانې ته ورل کيږي تر څو په عريضه کې د ذکر شوي وثيقې کنده پيدا شي تر کتلو او موجوديت وروسته به د مخزن امير ته معلومات ورکول کيږي.

٥. له هغه څه وروسته به د مخزن امير، مفتي او مسلکي محرر له خوا د وثيقې اصل والی او جعلي والی کتل کيږي.

٦. د قبالې د جعلي والي ځيني علامې په لاندې ډول دي:

اول: ثبت محفوظ نه لري سره ددې چې د هغه وخت د ثبت محفوظ کتاب موجود وي.

دوهم: د قبالې او ثبت تر مابين فرق وي.

دريم: عکس د بائع يا مشتري د هغه د چهرې سره واضح تغير لري او دغه تغير غير اختياري هم نه وي.

څلورم: قباله د داسې چا پر اقرار يا ابراء بناء وي چې ظاهري حال دهغه د اقرار يا ابراء تکذيب کوي، يا يې اقرار، يا ابراء عادة يا عقلا محاله وي..

پنځم: د قبالې نمبر د هغې د ثبت د نمبر سره ښکاره فرق لري.

شپږم: د قبالې کاغذ او خط د نورو قبالو سره فرق ولري او د کندې څخه يوه ورقه ليرې سوې وي پر ځای يې دغه فرق لرونکې ورقه اېښوول سوې وي.

اووم: په قباله کې شهود معرفت نه وي، بائع او مشتري هغسې مشهور اشخاص هم نه وي چې شهود معرفت ته ضرورت نه لري.

۷. کله چي معلومه شي چي قباله جعلي نه ده تر هغه وروسته به تحریراتو ته راجع کیږي تر څو مثنی ورته ترتیب او تحریر شي او د عارض شخصه لا مثنی قیمت واخستل شي.

۸. د مثنی ورکولو مامور به کنده شهریه (قید وارده) کوي او تحویلخانې ته به یې راجع کوي تر څو د مثنی عکاسي وشي او په کمپیوټري ډول پرنټ شي.

۹. کله چي مثنی ورکول کیږي پر مثنی به لیکي چي نقل مطابق د اصل دی.

۱۰. د پورته مراحلو له طی کولو څخه وروسته به د قبالې مثنی د مخزن امیر، مفتي او محرر قضایي ته د امضاء او مهر لپاره وړاندي کیږي.

۱۱. تر امضاء او مهر وروسته به مثنی و مثنی غوښتونکي شخص ته ورکول کیږي.

۱۲. د هري ادارې(دولتي،غیر دولتي) لخوا که دغه ادارې ته د منسوب ملکیت د قبالې مثنی غوښتل کیږي یواځې د هغې ادارې لخوا معرفي شوي رسمي مکتوب لرونکي شخص ته ورکول کیږي.

۱۳. کله چي دثبت محفوظ د کتلو ضرورت وي امیر، مفتي او محرر به یې دري سره ګوري.

۱۴. د ثبت محفوظ معلومات به یواځې د محاکمو د لاري غوښتل کیږي.

۱۵. د مثنی ورکولو تاریخ عمومي او خصوصي نمبر به پر مثنی لیکي د مثنی اخیستونکی شهرت سکونت تذکره نمبر به لیکي.

۱۶. د مثنی کاپي دي پر مقوم (مقاومت لرونکي) د ښه کیفیت او پټ کوډ لرونکي کاغذ باندي وسي تر څو د جعل او تزویر مخه ونیول سي.

مفتي حزب الله «ابراهیمي»
د ستري محکمې
د تدقیق او مطالعاتو ریاست عمومي رئیس
۱۴۴۳/۱۱/۳۰

مفتي عبدالرشید «سعید»
د ستري محکمې
د دارالانشاء ریاست عمومي رئیس
۱۴۴۳/۱۱/۳۰

مفتي محمد حسین
د ستري محکمې
د مدني دیوان عضو

حبیب الرحمن «قریشي»
د کابل ولایت
د مخزن آمریت عضو
۱۴۴۳/۱۱/۳۰

قاضي مدثر
د ستري محکمې
د تعلیمات قضائي ریاست عضو

شیخ محمد قاسم «راسخ»
د ستري محکمې
قضائي معاون
۱۴۴۳/۱۱/۳۰

د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحريراتو آمريت

د متحدالمالونو څانګه

د متحدالمآل ګڼه: ۱

نېټه: ۱۴۴۴/۱/۹ هـ ق

☐ عاجل ☐ عادي ☐ اطمیناني ☐ اطلاعيه ☐ ابلاغيه ☐ ساير

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: په تاريخ ۱۴۴۳/۷/۱۶ هـ ق د ستري محکمي عالي شورا داسي هدايت وکړ: (دارالانشا رياست دي د کابل د استيناف محکمي څخه د مثنی ورکولو د څکني ترتيب او طريقي په باره کي تحريري معلومات راوغواړي، تر څو معلومه شي چي کوم اصول قابل عمل او کوم د ليري کولو دي، تر دغه وروسته به د مثنی ورکولو اصول او طريقه تعين کړو) د هدايت سره سم د موضوع په اړه د کابل ولايت استيناف محکمي څخه معلومات وغوښتل شوه، نوموړي محکمي د مکتوب نمبر(۹۱۰۲)مورخ۱۴۴۳/۷/۲۸هق په توسط معلومات راليږلي چي معلومات د عالي شورا په مجلس مورخ۱۴۴۳/۱۰/۱۸هق کي مطرح شول او د تصويب نمبر(۵۲)په اساس عالي شورا داسي هدايت وکړ:

((د دغه موضوع د پوره تحقيق لپاره دي د راتلونکي يکشنبي په ورځ مورخ ۱۴۴۳/۱۰/۲۲هق چي د ۱۴۰۱ هجري لمريز کال د جوزا د مياشتي د لومړی نيټي سره سمون خوري محترم شيخ محمدقاسم صاحب، محترم شيخ عبدالمالک صاحب، محترم شيخ محمد شريف صاحب او محترم مفتي عبدالرشيد سعيد صاحب، د کابل ولايت استيناف محکمي ته او د هغه څخه وروسته مخزن ته دي ورسي د مثنی ورکولو په باره کي دي تفصيلي معلومات واخلي او له ځان سره دي وليکي تر هغه وروسته به د عالي شورا په مجلس کي خبره پر وکړو.))

د پورته ذکر شوي هدايت مطابق فوق الذکر هيئت د کابل ولايت استيناف محکمي ته او د هغه څخه وروسته مخزن ته ورغلی د مثنی ورکولو په باره کي تفصيلي شفاهي او تحريري معلومات راټول کړي له هغه وروسته موضوع د عالي شورا په مجلس مورخ ۱۴۴۳/۱۰/۲۹هق کي مطرح شوه او د تصويب نمبر(۵۶)په اساس عالي شورا داسي هدايت وکړ:

((د مثنی اخيستلو مقرره دي د ستري محکمي د قضائي معاون محترم شيخ محمد قاسم صاحب په مشرۍ، مفتي حزب الله «ابراهيمي» صاحب، د تعليمات قضائي رياست عضو قاضي مدثر صاحب، د ستري محکمي د مدني ديوان څخه يو نفر، مفتي عبدالرشيد «سعيد» صاحب او د کابل ولايت د استيناف محکمي د مخزن آمر حبيب الرحمن «قريشي» ته وسپارل شي.))

د ستري محکمي عالي شورا د پورته ذکر شوي هداياتو مطابق، د مثنی اخيستلو مقرره په (۱۶) مادو کي ترتيب او د عالي شورا په مجلس مورخ ۱۴۴۳/۱۱/۲۹هق کي مطرح شوه چي د تصويب نمبر(۵۹) مورخ ۱۴۴۳/۱۱/۲۹هق په توسط، عالي شورا داسي هدايت وکړ:

((د مثنی اخيستلو مقرره په (۱۶) مادو کي تصويب شوه دارالانشاء عمومي رياست دې ټولو محکمو ته په متحدالمآل شکل واستوي.))

بناءً د مثنی اخيستلو مقرره چي د عالي شورا د پورته ذکر شوي تصويب په اساس تائيد شوي، د دې متحدالمآل مل په(۲)ورقو کي د افغانستان اسلامي امارت تميزونو، ديوانونو مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغې په رڼا کي شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

په درنښت

مفتي عبدالرشيد "سعيد"

د ستري محکمي

د دارالانشاء رئيس

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
Post box: ۱۹۸۹
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان
تيلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af